# د اخِستو او خرڅولو يو څو احتياطونه

**24-November-2022**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

په 24 نومبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د اخِستو او خرڅولو يو څو احتياطونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

۞--- د غورځيدلې يوې کجورې خوړلو وبال

۞--- په اخِستو او خرڅولو کښې احتياط کوئ!

۞---زړه روښانه کوونکے بنيادي څيز

۞--- د سامان د عيب پټولو عذاب

۞--- په تجارت کښې د دروغو وئيلو عذابونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عَوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يوه ورځ د نبيانو سردار، د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دولت خانې (يعني د كور مبارک) نه بهر تشريف راوړلو او د يو باغ طرف ته روان شولو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې اوليدلو نو [هغوئ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وريسې هم] وروستو وروستو روان شول، هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باغ ته لاړل، د قبلې طرف ته ئې مخ كړلو او سر ئې په سجده كېښودلو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لرې ولاړ وو او كتل ئې، فرمائي: د بے وَسو مددګار، سركارِ عالي وقار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيره اوږده سجده اوكړله، تر دې پورې چې زما سره انديښنه شوه چې هسې نه د سجدې په حالت كښې الله پاک [د هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] رُوح مبارک قبض كړے نه وي، دا خيال چې مې اوكړو او وړاندې راغلم، زما د قدمونو آواز ئې چې واوريدلو نو هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سر مبارک د سجدې نه راوچت كړلو، پوښتنه ئې اوكړله: څوک ئې؟ ما عرض اوكړو: حُضور! عَبدُ الرَّحمان- اوئې فرمائيل: څه كار دې دے؟ ما عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو دومره اوږده سجده اوكړله، چې زما سره انديښنه شوله چې هسې نه الله پاک په سجده كښې [ستاسو] رُوح مبارک قبض كړے نه وي-

د عاشقِ زار د محبت نه ډكه خبره ئې چې واوريدله نو د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوږدې سجدې كولو حِكمت بيان كړلو، اوئې فرمائيل: زما خوا ته جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضِر شولو او اوئې وئيل: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک چې په تاسو باندې درود لولي، زه به په هغوئي باندې رحمتونه نازلووم، څوک چې په تاسو باندې سلام راليږي، زه به په هغوئي باندې سلامتيا نازلووم- د دې نعمت د شُكر ادا كولو د پاره ما دومره اوږده سجده اوكړله-[(1)]

اَللهُ اَكْبَر! اے عاشقانِ رَسُول! غور اوكړئ! ❀ درود به څوک لولي؟ اُمَّتي ❀ رحمت به په چا باندې نازليږي؟ په

[1]...مسندِ اَحْمَد، جلد:1، صفحہ:522، حديث:1686۔

اُمَّتي باندې ❁ سلام به څوک ليږي؟ اُمَّتي ❁ د الله کريم سلامتيا به په چا باندې نازليږي؟ په اُمَّتي باندې ❁ او سجدهٔ شُکر څوک ادا کوي؟ د اُمَّت غم خور، شفاعت کوونکے، اُمَّت بخښلو والا، جنَّت ته رسولو والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم--! سُبۡحٰنَ الله! اندازه اولګوئ! زمونږه د خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مينه ده- الله! الله! اُمَّت ګناه اوکړي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپې په ژړا ژړا تيروي، اُمَّت ته نعمت ميلاؤ شي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شُکر سجدې کوي- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

تم کو تو غلاموں سے ہے کچھ ایسی مَحبت | ہے ترکِ اَدَب! ورنہ کہیں ہم پہ فدا ہو[2]

**وضاحت**: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د خپلو غلامانو سره دومره محبت دے، دا ادب نه دے ګني چې مونږه اووايو چې تاسو په خپلو غلامانو باندې عاشق ئيئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-[3]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ښه ښه نيتونه بنده جنَّت ته رسوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې❁ د الله پاک د رضا د پاره به بيان اورم. ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ په اَدَب سره به کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ چې د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک واورم نو درودِ پاک به لولم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د يوې غورځيدلې کجورې د خوړلو وبال

يو ډير لوئي او مشهور ولِيُّ الله تير شوے دے: حضرت ابراهيم بن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه - هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل ژوند کافي حصه په سفر کښې تيره کړله، فرمائي: يو ځل ما په بيتُ المُقَدَّس (يعني مسجدِ اقصیٰ) کښې شپه تيره کړله، ما اوليدل: د شپې په يوه حصه کښې هلته 2 فرښتې راغللې، په هغوئي کښې يوې فرښتې بَلې ته اووئيل: دلته کوم انسان دے؟ دويمې اووئيل: دا ابراهيم بن اَدهَم دے- وروميئ فرښتې اووئيل: هغه ابراهيم بن اَدهَم--!!

---

[2]...ذوقِ نعت، صفحه:211 ـ
[3]...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895ـ

هغوئي خو اوس د خپلې درجې نه لرې کړے شوي دي- دويمې فرښتې پوښتنه اوکړه: په څه وجه باندې؟ وړومبۍ فرښتې اووئيل: يو ځل ابراهيم بن اَدهَم په بصره کښې وو، هغوئي د يو دکان نه کجورې واخستلې، چې هغوئي کله کجورې واخستلې او روان شولو نو اوئې ليدل: يوه کجوره [په زمکه] غورځيدلې پرته ده، هغوئي اوګنړله چې کيدے شي دا زما کجوره غورځيدلې ده، ځکه هغوئي هغه کجوره راواخِستله او اوئې خوړله، چونکه هغه کجوره د هغوئي نه وه بلکه د دکاندار وه او هغوئي د بَل چا کجوره خوړلې وه، ځکه الله پاک هغوئي د خپلې درجې نه معزول [لرې] کړلو-

حضرت ابراهيم بن اَدهَم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما چې کله د فرښتو دا خبرې واوريدلې نو فوراً بصرې ته اورسيدم، د هغه دکاندار کجوره مې هغه ته واپس کړه او بيرته راغلم- چې شپه شوله نو ما بيا 2 فرښتې اوليدلې، هغوئي په خپل مينځ کښې خبرې کولې، يوې بَلې ته اووئيل: دا هغه ابراهيم بن اَدهَم دے، چا چې د کجورې مالک ته کجوره واپس کړله نو الله پاک هغوئي ته بيرته د هغوئي مخکښينے مقام عطا کړلو-[4]

د الله پاک دې په هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ باندې رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

راځئ! د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کوو:

محبّت میں اپنی گُما یااِلٰہی! نہ پاؤں میں اپنا پتا یااِلٰہی!
مرے دِل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر کر اُلفت میں اپنی فنا یااِلٰہی!
تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے مرے غوث کا واسِطہ یااِلٰہی!
بنادے مجھے نیک نیکوں کا صَدقہ گُناہوں سے ہر دَم بچا یااِلٰہی![5]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په اوليائے کرامو باندې د الله پاک خاص کرم

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اوليائے کرامو هم ځانګړې شانونه دي--!! دا د اوچتې مرتبې والا حضرات

---

[4]…تفسير روح البيان،پاره:4،سورۂ آلِ عمران،زيرِ آيت:179 ، جلد :2،صفحه :136 ـ
[5]… وسائلِ بخشش، صفحه :105 ملتقطًا ـ

د ګناهونو نه معصوم نه وي خو البته محفوظ وي، مَعصُوم صِرف انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام او فرښتي دي، اوليائے کرام معصومه نه دي، د هغوئي نه هم ګناه کيدے شي خو د الله پاک په خپل محبوب بنده ګانو باندې خاص کرم وي، که چرې د هغوئي نه په نا پوهئ کښې کله خطا هم اوشي نو هغوئي د هغوئي د خطا نه خبرولے شي او هغوئي فوراً توبه کړي او د ګناه ګند د ځان نه لرې کړي۔

الله پاک په 9 سيپاره، سورۀ اعراف، آيت 201 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا اِذَا مَسَّهُمۡ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيۡطٰنِ تَذَكَّرُوۡا فَاِذَا هُمۡ مُّبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۰۱﴾ (پاره :9 ،سورۀ اعراف :201) | ترجمۀ کنزُ الايمان: بے شکه پرهيزګارانو ته چې کله د شيطان د طرف نه څه خيال راځي نو هغوئي (د الله پاک حکم) رايادوي بيا هم هغه وخت د هغوئي سترګې برسيره شي۔ |

د قرآنِ پاک مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې آيت لاندې فرمائي: د مؤمن متقي فِطرت شيطاني وسوسې او ابليسي خيالونه نه قبلوي، که چرې مؤمن ته دا څيزونه (مثلاً شيطاني وسوسې، ابليسي خيالونه، په نا پوهئ کښې څه خطا وغيره) وړاندې راشي نو د الله پاک د طرف نه هغوئي ته هغه خطا ياده کړے شي، داسې هغوئي د دې ګند نه خپل ځان پاک کړي۔ مفتي صاحب نور فرمائي: مؤمن متقي د فرښتو د ډَلې نه دے چې د هغوئي او د فرښتو فِطرت يو شان دے، دا حضرات بشر صُورت، مَلَک سِيرت (يعني په ليدو کښې انسانان او په سيرت کښې د فرښتو صفت والا) وي۔ [6]

الله پاک دې زمونږه هم د اوليائے کرامو فيضان نصيب کړي، کاش! چې زمونږه هم د تقویٰ دولت نصيب شي، مونږه د ګناهونو نه بچ شو او د نيکو والا ژوند تيرولو کښې کامياب شو۔

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دے حُسنِ اَخلاق کی دولت
مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا

کر دے عطا اِخلاص کی نعمت
یااللہ! مری جھولی بھر دے [7]

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

6…تفسير نعيمى ،پاره :9 ،سورۀ اعراف،زيرِ آيت :201 ، 202 ،جلد:9،صفحہ:460 بتغير قليل۔
7…وسائلِ بخشش،صفحہ:123۔

## په اخستو او خرڅولو کښې احتیاط کوئ!

اے عاشقانِ رَسُول! مونږه د حضرت ابراهیم بن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ایمان تازه کوونکې او د سبق نه ډکه واقعه واوریدله، د دې نه مونږ ته پته لګي چې په دین کښې د اخستو او خرڅولو څومره اهمیت دے- لږ غور اوکړئ! حضرت ابراهیم بن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ولایت په ډیره اوچته مرتبه باندې وو، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې مقام او مرتبې په وجه باندې هغوئي ته **سلطان ابراهیم** هم وئیلے شي، د دومره لوئي ولِي کامِل نه د اخستو او خرڅولو په وخت هغه هم په ناپوهئ کښې صِرف یوه خطا اوشوه، په زمکه باندې غورځیدلې کجوره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه وه، د دکاندار وه خو هغوئي خپله اوګڼړله او راوچته ئې کړله، د دې یوې کجورې په وجه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه درجې کمې کړے شوې-

آه! نن سبا خو دلته حال بے حاله دے ❀ خلق د نورو نه پوښتنه نه کوي او څیزونه ئې غلا کوي ❀ ګاهک دکاندارانو او دکاندار ګاهک له دهوکې ورکوي ❀ کله د نوټونو په ګټه کښې نقلي نوټ پټ کړي او دکاندار له ئې ورکوي ❀ د دکاندارانو څیزونه راوچت کړي او نا حقه خواره واره شي❀ د سبزئ او میوې د ګاډو نه په پټه نا څه څیز اوچت کړي او په خپله شکرئ [تهیلئ وغیره] کښې ئې واچوي- د یو بَل چپړې بغیر د اجازت نه استعمالول، یا خپلې چپړې د بل چا د چپړو سره بدلول خو کیدے شي چې هډو بد نه ګڼړلے کیږي، دا ډیره د تکلیف نه ډکه معامله ده، د امروزه نورې ډیرې داسې معاملې هم دي په کومو کښې چې بغیر د شرعي اجازت نه د نورو څیزونه استعمالول هیڅ عیب نه ګڼړلے کیږي، بعضې وخت دکانداران د یو بَل څیزونه په پټه اوچت کړي او استعمالوي ئې هم او مخامخ ګس ته هډو پته هم نه لګي، داسې نادانانو ته پوهیدل پکار دي، عبرت اخستل پکار دي، په ظاهره معمولي په نظر راتلونکي څیزونه هم که چرې بغیر د اجازت نه استعمال کړو او د قیامت په ورځ اونیولے شو نو زمونږه به څه کیږي؟

## د خِلال وَبال

مشهور تابعي بزرګ حضرت وهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بني اسرائیل یو ګس وو، هغه د خپلو ټولو مخکښینو ګناهونو نه توبه کړله، د 70 کالو پورې ئې پرله پسې داسې عبادت کولو چې د ورځې به ئې روژه نیوله او د شپې به راپاڅیدلو او عبادت به ئې کولو، نه به ئې څه ښه خوراک کولو، نه به ئې د یو سورې د لاندې آرام کولو- کله چې هغه عبادت کوونکے وفات شو نو چا په خوب کښې اولیدلو او پوښتنه ئې ترې اوکړله: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ الله ستا سره څه معامله اوفرمائیله؟ جواب ئې ورکړو: الله پاک زما حِساب واخستو، بیا ئې زما ګناهونه اوبخښل خو یو

ډَکے کوم چې ما د هغه د مالک د اجازت نه بغیر په خپلو غاښونو کښې وهلے وو، د هغه معاف کول هیر شوي وو، د هغه [ډَکي] په وجه تر اوسه پورې د جنّت نه اودرولے شوے یم- [(8)]

سلسلہ آہ! گُناہوں کا بڑھا جاتا ہے | نِت نیا جُرم ہر اک آن ہوا جاتا ہے
لاؤں وہ اشک کہاں سے جو سیاہی دھوئیں | گندگی میں مرا دِل حد سے بڑھا جاتا ہے
امتحاں کے کہاں قابل ہوں میں پیارے اللہ | بے سبب بخش دے مولیٰ ترا کیا جاتا ہے [(9)]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په دین کښې د اخستو او خرڅولو اهمیت

اے عاشقانِ رَسُول! په دین کښې د اخستو او خرڅولو ډیر اهمیت دے، ظاهره ده په اخستو او خرڅولو کښې بے احتیاطي کول د نورو نا حق مال خوړل یعني خپله ګیډه د حرامو نه د ډکولو وجه جوړیدے شي، ځکه د احتیاط کولو سره، په ډیره ایمانداریٔ سره اخستل او خرڅول ډیر ضروري دي- د دې د اهمیت اندازه د دې خبرې نه اولګویٔ چې زمونږه په وجود کښې د ټولو نه اهم اندام زمونږه زړه دے- د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل:

اَلَا وَاِنَّ فِی الْجَسَدِ مُضْغَةً، اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ اَلَا وَهِیَ الْقَلْبُ

واوریٔ! بے شکه په بدن کښې د وینې یوه ټوټه ده، چې کله هغه ټیک شي نو ټول بدن ټیک شي، چې کله د وینې هغه ټوټه خرابه شي نو ټول بدن خراب شي، واوریٔ--!! هغه د وینې ټوټه زړه دے- [(10)]

معلومه شوه چې زمونږه د ټولو نه اهم اندام زمونږه زړه دے، چې دا سم شي نو ټول انسان سم شي او که چرې زړه خراب شي نو ټول انسان خراب شي او **د زړه د دې شیشې صفا ستُهرا کولو والا د ټولو نه اهم څیز حلال رزق دے- نو هم داسې**

## د زړه روښانه کولو والا بنیادي څیز

حضرت عمر بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو ځل زه د حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې

[8]... تَنْبِیْهُ الْمُغْتَرِّین ،صفحہ:47 ۔
[9]... وسائل بخشش، صفحہ:432-433ملتقطاً۔
[10]... بخاری ،کتاب: الایمان،صفحہ:84 ، حدیث:52 ۔

حاضر شوم، ما پوښتنه اوکړه: اے امامه! الله پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي، زړونه څنګه نرميږي؟ دا پوښتنه ئې چې واوريدله نو امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سر مبارک ښکته کړلو، څه وخت پس ئې سر راپورته کړلو او اوئې فرمائيل: ځويه! حلال مال (زړه نرموي)۔

حضرت عمر بن صالح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د خپلې پوښتنې جواب مې چې واوريدلو نو واپس راغلم، په لار کښې زما سره حضرت بشر حافِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ميلاؤ شو، ما د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړه: عالي جاه! زړه څنګه نرميږي؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک په ذِکر سره۔ ما عرض اوکړو: [زه] د امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شوے ووم، د دومره اوريدلو سره حضرت بِشر حافِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوشحالئ نه اوفرمائيل: واه--- (څومره ښه خبره ده)۔ هغوئي تاسو ته څه اووئيل؟ ما عرض اوکړو: امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حلال خوړلو سره زړه نرميږي۔ اوئې فرمائيل: امام صاحب اصلي بنياد اوښودلو (يعني اَصل دغه دے چې زړه د حلال رزق سره نرميږي)۔ حضرت عمر بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بيا زما ملاقات د عبدُ الوَهّاب وَرّاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره اوشو، ما د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه هم هغه پوښتنه اوکړله: هغوئي هم اوفرمائيل: د الله پاک په ذِکر سره زړه نرميږي۔ ما عرض اوکړو: زه د امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضِر شوے ووم، د دومره اوريدلو سره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مخ د خوشحالئ نه روښانه شولو، اوئې فرمائيل: امام احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تاسو له څه جواب درکړو؟ ما عرض اوکړو: امام صاحب فرمائي: د زړه نرمي په حلال رزق کښې ده۔ حضرت عبدُ الوَهّاب وَرَّاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم هغه خبره اوکړه، اوئې فرمائيل: امام صاحب اصلي بنياد ښودلے دے (واقعي د حلال خوړلو نه بغير زړه هيڅکله هم نشي صفا کيدے)۔ (11)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! د 3 اوليائے کرامو ګواهي ده چې د زړه د نرمئ او صفائيئ د پاره د ټولو نه اهم څيز حلال خوړل دي۔ د دې نه اندازه اولګوئ! په اخستو او خرڅولو کښې احتياط کول، ډير په ايماندارئ سره اخستل او خرڅول څومره ضروري دي، که چرې مونږه په څيزونو اخستو او خرڅولو کښې بے احتياطي اوکړه او خدائے دې نه کړي که چرې د بَل چا څيز ناحقه زمونږ لاس ته راغلے نو دا يوه په ظاهره معمولي په نظر راتلونکې غلطي به د زړه دنيا ورانه ويجاړه کړي۔ ځکه په اخستو او خرڅولو کښې احتياط کول ډير ضروري دے۔

## د زُهد په موضوع باندې نا اشنا کتاب

د امام اعظم، امام ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير قابل شاګرد امام محمد بن حَسَن شيباني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته يو ځل چا

---

[11]... حلية الاولياء ، جلد:9 ، صفحه:193 ،رقم:13663 ملتقطاً۔

عرض اوکړو: عالي جاه! تاسو په زُهد (يعني د دنيا نه د بے رغبتئ) په موضوع باندې يو کتاب اوليکئ! اوئې فرمائيل: ما په دې موضوع باندې کتاب ليکلے دے- پوښتنه اوکړے شوه: هغه کوم يو؟ اوئې فرمائيل: كِتَابُ الْبِيُوْع يعني زما هغه کتاب په کوم کښې چې د اخستو او خرڅولو حکمونه بيان کړے شوي دي- (12)

يعني چاته چې د اخستو او خرڅولو د حکمونو پته نه وي، هغه د حرامو نه نشي بچ کيدے او څوک چې د حرامو نه بچ نه شي، هغه به زاهد څنګه جوړيږي؟ معلومه شوه چې په اصل کښې زاهد، د دنيا نه بے رغبتئ ساتلو والا، د دنيا د محبت نه بچ کيدونکے، متقي پرهيزګاره هغه دے څوک چې په اخستو او خرڅولو کښې په شرعي احتياط کولو کښې کامياب شي- بازار په اصل کښې هغه ځائے دے چرته چې د دنيا او مال او دولت محبت خپل رنګ ښائي، په غرونو او غارونو کښې يواځې اوسيدل او عبادت کول نسبتاً آسان دي خو په بازار کښې چې کله شيطان د پوره لښکر سره حملې کوي، نفسِ اَمّاره مجبورول کوي، د مال او دولت محبت زور کوي، هغه وخت د نفس او شيطان د حملو نه بچ کيدل او په پوره ايماندارئ او د شرعي حکمونو خيال ساتل ډير ګران کار دے، ځکه اصلي زاهد، د دنيا سره رغبت نه ساتلو والا هغه دے کوم چې دنيا ته کوز شي خو بيا هم خپل زړه د دنيا نه بچ ساتي-

## اخستل او خرڅول يو معيار دے

حُجّةُ الاِسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: تجارت يو معيار دے، د دې په ذريعه د انسان دين او وَرَع [تقویٰ] ازمائيلے کيږي- يو عربي شاعر وئيلي دي:

لَايَغُرَّنَّكَ مِنَ الْمَرْءِ قَمِيْصٌ رَّقَّعَه — اَوْاِزَارٌ فَوْقَ كَعْبِ السَّاقِ مِنْ رَّفْعِه
اَوْ جَبِيْنٌ لَّاحَ فِيْهِ اَثْرٌقَدْ قَلَعَه — وَلَدَى الدِّرْهَمِ فَانْظُرْغَيَّهُ اَوْوَرْعَه

**ترجمه:** يعني د چا پيوند شوے قميص، د ګيټو نه اوچتې پينسې، د تندي ځلا او په تندي باندې د سجدو نخښې دې تاسو نه دهوکه کوي، که چرې د چا تقویٰ او پرهيزګاري کتل وي نو د درهم او دينار (مثلاً د مال او دولت د لين دين) په وخت به د هغه جاج واخستلے شي ( يعني د هغه د دين او د تقویٰ امتحان به اوشي)- (13)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په مونږ باندې لازم دي چې مونږه ښه او رېښتوني سوداګر هم جوړ شو او

---

12... المبسوط للسرخسی ، کتاب البیوع ، جز:12،جلد:6، صفحه:128 ۔

13... احیاءالعلوم،کتاب:آداب الکسب ،باب الرابع: فی الاحسان فی معامله،جلد:2،صفحه:105۔

ريښتوني اخستونکي هم جوړ شو- راځئ! د ريښتني تجارت کوونکو خوش قِسمتو سوداګرو په فضيلتونو باندې يو څو حديثونه اورو:

## (1): امانت داره سوداګر به د انبيائے کرامو سره وي

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْاَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْن، وَالصِّدِّيْقِيْنَ، وَالشُّهَدَاءِ ريښتنے او امانت داره سوداګر به د قيامت په ورځ د انبيائے کرامو، صِدِّيقينو او شهيدانو سره وي- (14)

## (2): د دنيا مال په حلاله ذريعه باندې د ګټوونکي فضيلت

په ترمذي شريف کښې حديثِ پاک دے، محبوبِ خُدا، امامُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ التُّجَّارَ يُحْشَرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا اِلَّا مَنِ اتَّقٰى وَبَرَّ وَصَدَقَ يعني د قيامت په ورځ به ټول سوداګر بدکاره اوچتولے شي خو هغه کوم چې تقوىٰ خپله کړي، نيکي او ښيګړه اوکړي او رښتيا وائي- (15)

د قرآنِ کريم مشهور مفسرِ، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د پرهيزګارئ نه مراد دے: د ګناهِ کبيره [غټې ګناه] نه خاص طور او د ګناهِ صغيره [وَړې ګناه] د عادت نه عام طور بچ کيدل- د نيکئ نه مراد دے خپل کاروبار د دهوکې، خيانت نه بچ ساتل، د ريښتياؤ نه مراد دے د سودا په باره کښې صفا خبره کول که چرې عيب لرونکې وي نو د دې د بے عيبه ثابتولو کوشش نه کول- مطلب دا دے چې په قيامت کښې به ټول سوداګر فاسقان او فاجِران وي علاوه د هغوئي نه په کومو کښې چې دا 3 صفتونه وي، پرهيزګاري، ښيګړه او رښتيا- (16)

## (3): په اخستو او خرڅولو کښې د نرمئ فضيلت

د حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: رَحِمَ اللهُ رَجُلًا سَمْحًا اِذَا بَاعَ، وَاِذَا اشْتَرٰى، وَاِذَا اقْتَضٰى الله پاک دې په هغه ګس باندې رحمتونه نازل کړي څوک چې نرم وي چې کله خرڅوي او اخلي او چې کله تقاضا کوي- (17)

---

[14]...ترمذی، کتاب :البیوع،باب: ماجاء فی التجار ، صفحه:316 ، حدیث :1209 ۔
[15]...ترمذی، کتاب :البیوع،باب: ماجاء فی التجار ، صفحه:316 ، حدیث :1210 ۔
[16]... مرآة المناجیح ،جلد:4، صفحه :245۔
[17]... بخاری ،کتاب: البیوع ،باب: السهولة و السماحة،صفحه :541،حدیث :2076 ۔

په خرڅولو کښې نرمي دا ده چې ګاهک له د کم يا خراب څيز ورکولو کوشش نه کوي او په اخستو کښې نرمي دا ده چې قيمت خالص ورکړي او په ښه طريقه ئې ادا کړي، بيوپاري (مثلاً دکاندار) نه تنګوي، په تقاضا کښې نرمي دا ده چې کله د ده په چا باندې قرض وي نو په نرمۍ سره ئې اوغواړي او مجبور قرضداري له مهلت ورکړي، هغه نه تنګوي، په چا کښې چې دا 3 صفتونه راجمع وي هغه د الله مقبول بنده دے۔ [18]

## د نفل عبادت نه افضل عمل

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په احياءُ العلوم کښې فرمائي: په تجارت کښې د حق په لاره باندې تلل په مستقل مزاجۍ سره د نفل عبادتونو کولو نه زيات ګران کار دے، ځکه يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اَلتَّاجِرُالصَّدُوْقُ اَفْضَلُ عِنْدَاللهِ مِنَ الْمُتَعَبِّدِ يعني ريښتينے سوداګر د الله پاک په نز د عبادت کوونکي نه افضل دے۔ [19]

الله پاک دې مونږ له د اخستو او خرڅولو په معامله کښې د احتياط کولو، د ايمانداري خپلولو توفيق راکړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اخستو او خرڅولو حکمونه زده کړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تجارت او اخستل او خرڅول يوه ګرانه موضوع ده، د دې ډير زيات باريک حکمونه او مسئلې دي، ظاهره ده په لنډ شان بيان کښې دا ټول حکمونه او مسئلې نشي بيانيدے۔ البته چې کوم سوداګر دے، په هغه باندې د تجارت، چې کوم دکاندار دے، په هغه باندې د دکاندارۍ او چې څوک اخستونکے دے، په هغه باندې د اخستلو ضروري حکمونه زده کول فرض دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! ❁ دارُ الفتاء اهلِسُنَّت موبائل ايپلي کيشن موجود دے، په دې کښې د نورو ډيرو ديني معلوماتو سره سره د تجارت ټول کورس هم بيل شامِل کړے شوے دے، د دې نه علاوه د اخستو او خرڅولو په باره کښې فتوې هم موجودې دي، دا ايپلي کيشن په خپل موبائل فون کښې انسټال کړئ! ❁ د دې نه علاوه په مدني چينل باندې يو پروګرام هره هفته کيږي د کوم نوم چې دے: **اَحکامِ تجارت**- دا پروګرام اورئ، ګورئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د اخستو او خرڅولو او د جديد مارکيټنګ په باره کښې به ډير ګټه ور معلومات ترلاسه شي ❁ په بهارِ شريعت، جلد: 2، حصه: 11 د اخستو او خرڅولو

---

[18]... مرآة المناجيح ،جلد:4،صفحه :242۔

[19]... احياءالعلوم،کتاب:آداب الکسب و المعاش،باب الثالث: فی بيان العدل ،جلد:2،صفحه:95۔

بيان اولولئ! د دې نه به هم د اخستو او خرڅولو ډېر زيات حکمونه او مسئلې د زده کولو د پاره ميلاؤ شي ❀ د 62 صفحاتو يوه ډېره ښکلې رساله: **تاجروں کے لئے کام کی باتیں** د **مكتبة المدينه** نه واخلئ او اوئې لولئ!، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د اخستو او خرڅولو په باره کښې به ډېر څه د زده کولو د پاره ميلاؤ شي ❀ يوه بَله مشوره ده: د دار الافتاء اهلِسُنَّت نمبر د ځان سره ضرور محفوظ کړئ! کله چې درته هم څه مسئله پيښيږي، د څه خاص صورت په باره کښې شرعي لار ښودنه اخستل وي نو کال اوکړئ او د مفتيانِ کرامو نه راهنمائي خاصله کړئ! د دې سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ډېرو زياتو ګناهونو نه هم بچ شئ او د عِلمِ دين ډېره غټه خزانه به هم په لاس درشي۔

**د دار الافتاء اهلِسُنَّت نمبر دے: 03113993312۔**

راځئ! د اخستو او خرڅولو په باره کښې يو څو احتياطونه اورو:

## (1): د جنګ جګړو والا صورتونو نه ځان بچ ساتئ!

چې کله هم يو څيز اخلئ يا خرڅوئ، په هغې کښې يو بنيادي احتياط دا ضرور کوئ چې يو هم داسې صورت جوړ نه شي کوم چې د جنګ جګړې په لور بوتلل کوي۔

زمونږه په دينِ اسلام کښې اِتّحاد، اتفاق او خپل مينځ کښې هم آهنګئ ته ډېر اهميت ورکړے شوے دے، ځکه د اخستو او خرڅولو هر هغه صورت کوم چې د جنګ جګړې وجه جوړيدے شي، د هغې نه ځان بچ ساتئ! مثلاً ❀ کوم څيز چې اخستل وي، هغه مخکښې اوګورئ! تسلي اوکړئ! ❀ قيمت د مخکښې نه ټاکئ! ❀ بعضې وخت قيمت په صفا لفظونو کښې نه ټاکلے کيږي، خرڅولو والا وائي: څه چې مناسب وي راکړئ ❀ عموماً رکشې وغيره والا هم داسې وائي، صرف په دومره وئيلو سره په رکشه کښې مه کښينئ! بلکه باقاعده په صفا ټکو کښې کرايه ټاکئ، غرض: د څيزونو اخستو او خرڅولو په وخت داسې صورتونه ساتئ چې د 0% جګړې انديښنه هم پاتې نه شي۔

تاسو د عدالتونو ريکارډ اوګورئ! داسې ډېرې مقدمې به درته ميلاؤ شي کومې چې د اخستو او خرڅولو د بے احتياطئ په وجه پيدا کيږي، خاص طور د زمکې په اخستو او خرڅولو کښې خو ډېر زيات احتياط پکار دے، په دې کښې خو بعضې وخت وژلو او ټکولو ته هم خبره لاړه شي۔ ځکه چې کله هم اخستل او خرڅول کوئ، بالکل ئې صفا سُتهرا کوئ، که چرې د قانوني کاروائيئ ضرورت وي نو اوئې کړئ! که کاغذونه وغيره جوړول وي نو لاس په لاس ئې جوړ کړئ! هيڅ کمے بيشے، پټ مه ساتئ۔ دلته خلق په جذباتو کښې راشي او بے پروائي اوکړي، مثلاً په سَکه ورور ئې يو څيز خرڅ کړو، يا ئې د سَکه ورور نه واخستو نو د

ضروري کاغذونو وغيره په جوړولو کښې د بے پروائيئ نه کار اخلي چې خير دے، خپل ورور مې دے۔ خو چې کله شيطان خپل جال راخور کړي نو ورور د ورور ګريوان ته لاس واچوي۔ ځکه بالکل صفا سُتهرا معامله کوئ۔ د اخستو او خرڅولو ټولې ضروري تقاضې هر وخت پوره کړئ د پاره د دې چې وروستو جنګ جګړې ته خبره لا رہ نه شي۔

## سودا د تَلَلو سره ورکوئ!

بعضې دکانداران د يو څيز خرڅولو په وخت باقاعده طور په تَله نه تلي يا ئې په پيمانه نه ناپ کوي، داسې ئې په اندازې سره ورکوي، دا صورت هم د جګړې وجه جوړيدے شي۔ رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كِيْلُوا طَعَامَكُمْ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ يعني خپل خوراک ناپ کوئ، تاسو ته به په دې کښې برکت اچولے شي۔ [20]

د قرآنِ کريم مشهور مفسرِ، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د دانو (يا بَل څه څيز) خرڅولو او اخستو، د قرض اخستو او ورکولو په وخت ناپ تول کوئ چې د پاره د دې چې کمے زياتے اونه شي او ستاسو په ذمه د نورو او د نورو په ذمه ستاسو حق پاتې نه شي۔ [21]

په يو روايت کښې ئې اوفرمائيل: مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ څوک چې غله واخلي نو په هغې باندې د قبضې کولو بغير دې [هغه] نه خرڅوي۔ [22]

د قرآنِ کريم مشهور مفسرِ، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د دې حديثِ پاک نه دې د نن سبا بيوپاريان عبرت واخلي چې د کپړې جاز د بَل ملک نه راځي، اوس لا کراچئ بندرګاه ته نه وي رارسيدلے چې په ډيرو ځيونو کښې هغه په ګټه خرڅ کړے شوے وي، وروستو بيا دا ديواليه کيږي، د ليدلو او د قبضه کولو نه بغير د يو څيز تجارت هيڅکله نه دې کول پکار چې دا شرعاً ګناه هم ده او د سخت نقصان وجه هم۔ [23]

## (2): دهوکه مه ورکوئ!

د اخستو او خرڅولو دويم احتياط دا دے چې کله هم يو څيز اخلئ يا خرڅوئ نو د دهوکې ورکولو نه ځان

---

[20]... بخاری، کتاب البیوع، صفحہ:553، حدیث:2128۔

[21]...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:26۔

[22]...مسلم ، کتاب البیوع، باب بطلان بیع المبیع، صفحہ:588، حدیث:1525۔

[23]...مرآۃ المناجیح، جلد:4، صفحہ:267۔

ساتئ، نه دې خرڅوونکے اخستونکي له دهوکه ورکوي، نه دې اخستونکے خرڅوونکي له دهوکه ورکوي بلکه دواړه دې د يو بَل خير غواړي، دواړه دې د يو بَل سره ښيګړه کوي- د الله پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلْبَيِّعَانِ فَاِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُوْرِكَ لَهُمَا فِيْ بَيْعِهِمَا، وَاِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا يعني خرڅولو والا او اخستو والا که چرې رېښتيا اووائي او د څيز عيب (که چرې وي نو) بيان ئې کړي نو د هغوئي په سودا کښې برکت کېښودلے کيږي او که چرې عيبونه پټ کړي او دروغ اووائي نو د هغوئي د سودا نه برکت اوچتولے شي- [24]

## عيب ښودل واجب دي

امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د څيز خرڅولو په وخت د دې د عيب ښودلو سره د مسلمان ورور ښيګړه کول واجب دي- [25] يو ځل زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بازار ته تشريف يوړلو، په يو دُکان کښې (د غنمو، وَربشو يا بلې يوې) غلې ډيرے پروت وو، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه غله خوښه شوله، چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارک هغه غلې ته وردننه کړلو نو لاندې والا غله لمده وه، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دکاندار نه پوښتنه اوکړه: مَا هٰذَا يعني دا څه دي؟ هغه عرض اوکړو: اَصَابَتْهُ السَّمَآءُ يعني يا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د باران په وجه باندې غله لمده شوې وه- هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که چرې داسې وه نو تا لمده غله بره ولې نه کېښودله د پاره د دې چې خلق دا اووينې (څوک به نه دهوکه کيدو، ياد ساته!) مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّيْ چا چې دهوکه اوکړه هغه زما نه، نه دے- [26]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! څومره سخت وَعِيد دے، مونږه عاجزان او بے وسه، سراسر ګنهګار بنده ګان، د يو خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت خو سهاره ده، د دې شفاعت په برکت خو به جنّت نصيب کيږي، خدائے دې نه کړي که چرې په دې لنډ شان ژوند کښې د مال په لالچ کښې خپلو مسلمانانو ورونړو له دهوکه ورکړو او د څيزونو عيبونه پټ کړو او خرڅوو ئې او د دې ګناه په نحوست رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ نه خفه شي نو څه به کيږي؟ که چرې د قيامت په ورځ زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې چا به زمونږه اُمتيانو له دهوکه ورکوله، زمونږه د هغوئي سره او د هغوئي زمونږ سره هيڅ تعلق نشته نو چرته به ځو؟ ځکه نن موقع ده، که چرې نورو له د دهوکې ورکولو سره د مال خرڅولو په ګناه

---

[24]... بخاری،کتاب: البیوع،باب:اذا بین البیعان ...الخ،صفحہ:542،حدیث:2079 ملتقطًا۔

[25]... احیاءالعلوم،کتاب:آداب الکسب ،باب الثالث : فی بیان العدل ،جلد:2،صفحہ:96 بتغیر قلیل۔

[26]... مسلم ،کتاب: الایمان ،باب :قول النبی صلی اللہ علیہ و سلم: من غشنافلیس منا،صفحہ :57،حدیث:102۔

کښې اخته شوي يو نو چې د هغې نه توبه کړو، چا چا له چې مو دهوکه ورکړې ده، د هغوئي نه حق معاف کړو- په الله پاک مې دې قسم وي! که چرې الله پاک او د هغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خفه شول نو د يو ځائے به هم پاتې نه شو-

گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جَہنّم میں جلوں گا یارب!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سامان د عيب پټولو عذاب

صحابئ رسول حضرت واثِله بن اَسقَع رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: ما د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه واوريدل: څوک چې د عيب والا څيز د هغې د عيب ښودلو نه بغير خرڅ کړي، هغه د الله پاک په ناراضتيا کښې وي او فرښتې په هغه باندې لعنت وائي- (27)

## د څيز عيب بيانوئ!

که چرې په يو څيز کښې څه عيب وي او مونږه هغه خرڅول غواړو نو د هغې آسان حل دا دے چې اخستونکي ته د هغې عيب اوښايو، د عيب نه د خبريدو نه پس هم که چرې هغه اخستل غواړي نو په خوشحالئ دې واخلي، ګنې نو نه دې ئې اخلي- زمونږه بزرګانِ دين به هم داسې کول- د حضرت محمد بن سِيرين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې نقل دي: يو ځل هغوئي يوه چيلئ [بيزه] خرڅه کړه نو اخستونکي ته ئې اوفرمائيل: زه د دې چيلئ [بيزې] د عيب په معامله کښې ستا نه بَري يم او هغه عيب دا دے چې دا ګيا [واښه] په خپو باندې اَړوي- (28)

## نقلي نوټ مه چلوئ

دغه شان ګاهک يا اخستونکي له هم پکار دي چې نقلي يا زوړ شليدلے نوټ په دهوکې سره د چليدو نه ځان بچ کړي- ډير خلق خپلو مسلمانانو ورونړو له دهوکه ورکوي ❀ که د نوټونو په ګته کښې نقلي نوټ پټوي او ورکوي ئې ❀ که چرې يو نوټ زوړ شليدلے او د چليدو قابل نه وي نو د نوؤ نوؤ نوټونو په مينځ کښې ئې

---

[27]... ابنِ ماجہ، کتاب :التجارات، باب: من باع عيباً ،صفحہ:359،حديث:2247۔

[28]... احياءالعلوم،کتاب:آداب الکسب و المعاش،باب الثالث : فی بيان العدل ،جلد:2،صفحہ:98۔

کيږدي او په دهوکه باندې ئې دکاندار له ورکړي او هغه نقصان اوکړي- دغه شان خپل مسلمان ورور له دهوکه ورکول ډيره سخته ګناه ده-

## د غلا نه زياته بده ګناه

په اِحيَاءُ العلوم کښې دي: د کوټه سِکو (يا نوټونو) رواج جوړول عام ظلم دے، د دې غټ نقصان دا دے چې دا ګناهِ جاريه [يعني روانه ګناه] جوړيدے شي، مثلاً يو ګس په دهوکه باندې چا له نقلي نوټ ورکړو، اوس به ئې هغه وړاندې چا له ورکړي، دريم به ئې څلورم له، څلورم به ئې پينځم له او هم داسې به په دهوکه باندې چليږي، داسې به دا ټول هم ګنهګاران شي او د دې ټولو ګناه به په دې وړومبي ګس وي چې هغه د دې بدئ دروازه برسيره کړه- [29]

يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه کوټه سِکه (يا نقلي نوټ په دهوکې سره) چلول د سپينو زرو د 100 سِکو د پټولو نه زيات بد کار دے ځکه چې غلا يوه ګناه ده، لکه څنګه چې غَل غلا اوکړه، ګناه ختمه شوه خو د نقلي نوټ په دهوکې سره چلول بد بدعت، بده طريقه ده، کومه چې بنده په دين کښې جاري کوي (کيدے شي لکه څنګه چې ده نقلي نوټ اوچلولو، هغوئي ئې وړاندې چرته اوچلوي، هغه ئې د هغې نه وړاندې اوچلوي، داسې به دا معامله روانه وي او دا يوه ګناه به ګناهِ جاريه [روانه ګناه] جوړه شي)- [30]

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک دې مونږه د ګناهونو د آفت او نحوست نه بچ کړي- غور اوکړئ! څومره د بد بختئ خبره ده- لږ تصور خو اوکړئ! چا چې په وړومبي ځائے کښې نقلي نوټ په دهوکې سره چلولے وو، داسې هم کيدے شي چې هغه خو پخپله مړ شي خو د هغه چليدلے نقلي نوټ په مارکيټ کښې ګرځي، که چرې داسې اوشول نو په هغه پسې به قبر ته هم ګناه ور رسيږي- آه! څومره بدبخته دے هغه ګس کوم چې په قبر کښې پروت دے خو د هغه د ګناهونو ميټر اوس هم روان دے-

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | ورنہ قبر میں سزا ہوگی کڑی

[29]... احياءالعلوم،کتاب:آداب الكسب ،باب الثالث : فی بيان العدل ،جلد:2،صفحہ:94 ملخصاً۔

[30]... احياءالعلوم،کتاب:آداب الكسب ،باب الثالث : فی بيان العدل ،جلد:2،صفحہ:94۔

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** زمونږه اسلافو (بزرگانِ دين)، به د خپلو مسلمانانو وروڼو د فائدې او نقصان څومره خيال ساتلو، راځئ! يوه ډيره ښکلې ايمان تازه کوونکې واقعه اورو-

## کوټه سِکّه

په حضرت شيخ ابو عبد الله خياط رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ باندې به يو آتِش پرست [د اور عبادت کوونکې] خپلې جامې گنډلې او هر ځل به ئې ورله په اُجرت کښې کوټه سِکه ورکوله، هغوئي به په خاموشئ سره اخستله- يو ځل د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ په غير موجودگئ کښې شاگرد د آتش پرست [د اور عبادت کوونکې] نه کوټه سِکه وانخستله- چې کله هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ واپس تشريف راوړلو او پته ورته اولگيدله نو شاگرد ته ئې اوفرمائيل: تا کوټه درهم (د سپينو زرو سِکّه) ولې وانخستله؟ د تيرو ډيرو کلونو راهسې هم هغه ما له کوټه سِکه راکوي او زه ئې هم قصداً اخلم د پاره د دې چې دا هغه سِکه يو بَل مسلمان له ورنکړي- (31)

الله پاک دې زمونږه هم د هغه عظيمو هستيانو د اعلیٰ سوچ برکت نصيب کړي، د گناهونو د آفت نه مو محفوظ اوساتي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په ناپ تول کښې د کمي نه ځان بچ ساتئ!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د اخستو او خرڅولو په وخت دا هم ضروري ده چې خرڅوونکے څيز پوره پوره ناپ يا تول کړي او ور ئې کړي، په دې کښې کمے نه کوي او کوم چې اخستونکے دے، په هغه باندې لازمه ده چې هغه رقم پوره ادا کړي، په دهوکه باندې د کم رقم ورکولو کوشش نه کوي-

دا عيب خو زمونږه په بازارونو کښې ډير عام کيږي روان دے، د يوې يوې، دوه دوه روپو او کيدے شي چې هره ورځ د کروړونو اربونو روپو ټگي په اخستو او خرڅولو کښې کيږي- د دهوکې ورکولو، ناپ تول کښې د کمي او د ډنډې وهلو نوې نوې طريقې خلق راوباسي- دا د يو څوو سِکو لالچ خدائے دې نه کړي که چرې

31...احياء العلوم، جلد:3، صفحہ:87 خلاصةً-

دوزخ ته د تللو وجه جوړه شوه نو سوچ اوکړئ! زمونږ به څه کیږي؟

## په ناپ تول کښې کمي کولو والا! سم شئ!

الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِيۡنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِيۡنَ اِذَا اكۡتَالُوۡا عَلَى النَّاسِ يَسۡتَوۡفُوۡنَ ۖ﴿۲﴾ وَ اِذَا كَالُوۡهُمۡ اَوۡ وَّزَنُوۡهُمۡ يُخۡسِرُوۡنَ ؕ﴿۳﴾ (پاره:30 ،سورۀ مطففين:1 تا 3) | ترجمۀ کنزُ الایمان: د کمو تَلَلو والا د پاره خرابي ده هغه خلق چې کله د نورو خلقو نه ناپ اخلي نو پوره ئې اخلي او کله چې هغوئي [نورو له] ناپ یا تول کوي نو کم ورکوي- |

په تفسیرِ صراطُ الجنان کښې دي: ناپ تول ډیره اهمه معامله ده، تقریباً د ټولو خلقو د څیزونو خرخولو او اخستو سره واسطه راځي او د زیاتره څیزونو خرخول او اخستل په دې ناپ کولو او تَلَلو باندې مشتمل دي، (ځکه په قرآنِ مجید کښې په ډیرو ځیونو کښې د دې اهمیت بیان کړے شوے دے)- د صحیح ناپ کولو او تَلَلو انجام په دنیا کښې هم ښه وي چې ❀ په دې سره د خلقو اعتبار قائم وي ❀ تجارت هم ښه زیاتیږي ❀ او په رزق کښې برکت وي-

او په آخِرت کښې به هم یقیناً بهتر وي چې ❀ په دې لړ کښې به د خلقو په هغه باندې څه حق نه وي او داسې به خلق هغه د خپل حق غوښتلو د پاره نه رانیسي ❀ دا به د حرام رزق د خوړلو او په نورو د خوړلو د عذاب نه بچ شي ❀ او د ده نیک اعمال به بچ پاتې وي ❀ او کوم خلق چې په ناپ تول کښې کمے کوي، د هغوئي د پاره سخت او دردناک عذاب دے-[32]

## په ناپ تول کښې د کمي وَبَال

یو بزرګ فرمائي: زه د خپل یو ګاؤنډي د تپوس د پاره لاړم، چا چې به غنم خرخول، کله چې زه د هغه سر ته کښیناستم نو ما واوریدل چې هغه به بیا بیا دا وئیل: د اور 2 غرونه، د اور 2 غرونه- کله چې ما د هغوئي د کور والوؤ نه د هغه په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو هغوئي اووئیل چې د ده سره د غَلې ناپ کولو 2 پیمانې وې،

[32]...تفسیر صراط الجنان ،پاره:30 ،سورۀ مطففين ،زیرِ آیت:1 تا3 ،جلد:10 ،صفحه:571- 572 ملتقطًا۔

کله چې به ده د بَل چا نه غنم اخستل نو هغه به ئې په دې غټه پيمانه باندې تلل او کله چې به ئې په چا خرڅول نو په وَړه پيمانه به ئې ناپ کول او خرڅول- هغه بزرګ فرمائي: بيا زه پوهه شوم چې هغه 2 لوښي ده ته د اور د غرونو په شکل کښې په نظر راځي- (33)

د الله پاک پناه--!! د الله پاک پناه--!! **اے عاشقانِ رَسُول!** غور خو اوکړئ! که چرې يو کَس په ناپ تول کښې کمے هم کوي نو هغه به په تولو ورځ کښې څومره اوګټي؟ دغه يو څو سوه يا يو څو زره روپئ، خو د دې عارضي، فاني، يو څو سِکو وبال ته خو اوګورئ! په ځنکدن کښې هم سخته، په قبر کښې هم عذاب، په حشر کښې هم عذاب او د دوزخ حقداره کيدل د دې نه جُدا دي- **د يو بزرګ** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **عادت وو چې هغوئي به کله هم يو څيز اخستلو نو نيمه دانه به ئې کم اخستلو او کله چې به ئې يو څيز خرڅولو نو يوه دانه به ئې زيات ورکولو او فرمائيل به ئې: خرابي ده د هغه چا د پاره څوک چې د يوې دانې په بدله داسې جنّت خرڅوي کوم چې د زمکې او آسمان نه زيات فراخه دے، څومره په نقصان کښې دے هغه کَس څوک چې د وَيل (يعني دوزخ) په بدله طُوبىٰ (يعني جنّت) خرڅ کړي-** (34)

الله پاک دې مونږه په ناپ تول کښې د خيانت د ګناه نه بچ کړي! کاش! د زړه نه د ګناه محبت ووځي، يقين اوکړئ! دا صِرف د مال محبت دے کوم چې بنده په قِسما قِسم ګناهونو کښې اخته کوي- کاش! د زړه نه د دنيا لالچ ختم شي نو مونږه به د ډيرو ګناهونو نه بچ شو-

| | |
|---|---|
| دل سے مِرے دنیا کی مَحبَّت نہیں جاتی | سرکار! گناہوں کی بھی عادت نہیں جاتی |
| دن رات مسلسل ہے گناہوں کا تسلسل | کچھ تم ہی کرو نا یہ نحوست نہیں جاتی (35) |

## په ناپ تول کښې د کمي يو څو صُورتونه

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❀ په څيزونو کښې ملاوټ کول هم د ناپ تول په کمي کښې شامل دے ❀ دغه شان قصاب کوم چې د غوښې سره داسې هډوکي هم تَلي د کومو هډوکو چې تَلَل د عُرف خلاف دي، دا هم په ناپ تول کښې خيانت دے ❀ دغه شان چې څوک کپړه د اخستو په وخت سسته اوساتي او ناپ ئې کړي خو د خرڅولو په وخت ئې پوره راکاږي او ناپ کوي ئې د پاره د دې چې د کپړې په مقدار کښې فرق راشي، دا

[33]... بَحْرَ الدُّمُوْع ، الترہيب من الخيانة فی الميزان،صفحہ:182۔

[34]... احياءالعلوم،كتاب:آداب الكسب ،باب الثالث : فی بيان العدل ،جلد:2،صفحہ:99۔

[35]... وسائلِ بخشش ،صفحہ:382۔

هم په ناپ کښې د کمي يو صورت دے کوم چې انسان د دوزخ حقدار جوړوي۔ [36]

## (3): د دروغو او د دروغو د قَسم نه ځان ساتئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د اخستو او خرڅولو هغه ضروري احتياطونه د كومو چې هميشه خيال ساتل پکار دي، په هغې کښې يو دا هم دے چې د يو څيز اخستو او يا خرڅولو په وخت هيڅکله هم دروغ مه وائيئ، مه د دروغو قَسم خورئ۔

نن سبا په تجارت کښې دا بلا هم ډيره عامه ده، دكانداران د څيزونو د دروغو تعريفونه كوي او گاهک دروغ وائي او د قيمت کمولو کوشش کوي، سودا که اوشي او که اونه شي، که څيز خرڅ شي او که خرڅ نه شي، البته دواړه د دروغو وئيلو په گناه کښې اخته شي او د دوزخ حقداره جوړ شي۔

## د سودا خرڅولو په وخت قسم مه خورئ!

د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلْحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ، مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ يعني قسم سامان خو خرڅ کړي خو برکت ترې ختم کړي۔ [37]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! په دې حديثِ پاک کښې **د دروغو د قسم** خوړلو قيد نشته، يعني د سودا خرڅولو په وخت ئې قسم اوخوړلو، که هغه د رښتياؤ وي او که د دروغو، دا قسم به په سودا کښې نحوست راولي، د دې په وجه به برکت ختم شي، آه! دلته خو خلق په اخستو او خرڅولو کښې د دروغو قسمونه هم خوري۔ اندازه اولگوئ! چې کله قسم که د دروغو وي او که د رښتياؤ، په دې باندې برکت ختميږي نو څوک چې د دروغو قسم اوخوري او سودا خرڅه کړي نو د هغې وبال به څومره وي؟

## په تجارت کښې د دروغو وئيلو عذابونه

په يو حديثِ پاک کښې ئې اوفرمائيل: ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيمٌ يعني 3 کسان داسې دي: د کومو سره چې به نه د قيامت په ورځ الله پاک خبرې کوي، نه به ورته د رحمت په نظر

---

[36]... احياءالعلوم،كتاب:آداب الكسب و المعاش،باب الثالث : فی بيان العدل ،جلد:2،صفحہ:100ملتقطًا۔
[37]... بخاری،کتاب: البيوع،باب:يمحق الله الربوا ...الخ،صفحہ:544،حديث:2087 ۔

ګوري او نه به دوئي د ګناهونو نه پاکوي او د دوئي د پاره دردناک عذاب دے- حضرت ابو ذر غفاري رَضِیَ اللہ عَنْہُ عرض اوکړو: هغوئي خو مات شول او په خساره کښې پريوتل يَا رسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه څوک دي؟ خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: (1): تهبند زوړند ساتلو والا (2): احسان يادولو والا (3): د **دروغو په قسم** مال خرڅولو والا- (38)

## (4): خير خواه جوړ شئ!

**اے عاشقانِ رَسُول!** يو ډير ښکلے مدني ګُل دے، که چرې مونږ ټول دا مدني ګُل په خپل ژوند کښې عملي طور نافذ کړو نو د اخستو او خرڅولو د ګناهونو سره سره به د نورو ډيرو ګناهونو نه هم بچ شو- هغه مدني ګل څه دے؟ د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ، حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ** يعني په تاسو کښې څوک تر هغه وخته پورې کامل مومن نشي کيدے تر څو پورې چې د خپل ورور د پاره هغه څيز خوښ نه کړي کوم چې د ځان د پاره خوښوي- (39)

هر هغه يو کار، هره هغه خبره، هره هغه معامله کومه چې مونږ د خپل ځان د پاره نه خوښوو، هغه مونږ د نورو د پاره هم خوښه نه کړو او هر هغه يو کار، خبره او معامله کومه چې زمونږه خوښه ده، هغه مونږه د نورو د پاره هم خوښه کړو- يقين اوکړئ! دا زمونږه او زمونږه د معاشرې د ترقئ هغه راز دے، کوم چې مونږه خپل کړو نو معاشره په ورځو کښې د ترقئ بام ته رسيدے شي- تاسو د صحابهٔ کرامو، تابعين او تبع تابعين د مبارکې زمانې تاريخ اولولئ او اوګورئ! هغه وخت مسلمانان کامياب هم وو، ترقي يافته هم وو- ولې؟ ځکه چې هغوئي د يو بَل خير خواه وو، د يو بَل خير غوښتلو والا وو او نتيجةً ټول د ترقئ او کاميابئ په لور روان وو، د کله نه چې زمونږ په زړونو کښې نفرتونه، نا اتفاقئ، د مال او دولت محبت راغلے دے، مونږه ورځ په ورځ د تنزلئ په لور روان يو- د خدائے د پاره! چې مونږه په خپل حال باندې غور اوکړو او په حديثِ پاک کښې ښودلے شوے دا عظيمُ الشّان مدني ګل عملي طور په خپل ژوند کښې نافذ کړو چې کامِل مسلمان هغه دے کوم چې د ځان د پاره څه خوښ کړي، هغه د نورو د پاره هم خوښ کړي-

## د سودا نه کيدو عجيبه وجه

حضرت سِرّي سقطي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ يو ډير لوئي ولِي کامِل دے، هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به تجارت کولو، يو ځل هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ

[38]...مسلم،کتاب الايمان، باب بيان غلظ، صفحه:58، حديث:106 ـ

[39]... بخاری، کتاب: الايمان،باب: من الايمان ان يحب لاخيه ،صفحه:74،حديث:13ـ

د خرخولو د پاره د 60 ديناره (يعني د سرو زرو د سِکّو) په بدل بادام واخِستل او په خپله روزنامچه کښې ئې اوليکل چې زه به دا بادام په 63 ديناره باندې خرڅووم- لږه موده پس بادام ګران شول، کوم بادام چې هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په 60 ديناره اخستي وو، د هغې قيمت 90 ديناره شو- يوه ورځ د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خوا له يو کَس راغلے: اوئې وئيل بادام اخستل غواړم، اوئې فرمائيل: واخله! پوښتنه ئې اوکړه: په څو؟ اوئې فرمائيل: په 63 ديناره- ګاهک هم نيک انسان وو، هغه اووئيل: د دې بادامو قيمت خو په مارکيټ کښې 90 ديناره شوے دے- حضرت سِرِّي سقطي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوفرمائيل: ما د ځان سره وعده کړې وه چې په دې بادامو کښې به 3 ديناره ګټه کووم، ځکه په مارکيټ کښې چې د دې قيمت هر څومره هم دے، ما په 60 ديناره باندې اخستي وو، اوس به ئې په 63 ديناره خرڅووم-

اوس ګاهک وائي: زه خو به ئې په 90 ديناره اخلم- حضرت سِرِّي سقطي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: زه خو به ئې په 63 ديناره خرڅووم، دواړه د يو بَل دومره خير خواه وو چې د هغه دواړو هډو سودا اونشوه، ګاهک غواړي چې دکاندار ته ګټه اورسي، دکاندار غواړي چې د ګاهک ښيګړه اوشي، بس په دې بحث کښې نه ګاهک بادام واخستل، نه حضرت سِرِّي سقطي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خرڅ کړل، آخِر ګاهک خالي لاس واپس لاړے- [40]

اُمّتِ محبوب کا یاربّ بنا دے خیر خواہ | نفس کی خاطِر کسی سے دل میں میرے ہو نہ بیر

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا دے د يو بَل خير--!! آيا مونږه داسې کوو؟ دلته خو د ګاهک او د دکاندار د جګړې موضوع څه بَله وي، ګاهک غواړي چې زه د 50 څيز په 10 روپۍ واخلم او دکاندار غواړي چې زه د 50 څيز په 100 خرڅ کړم- نه ګاهک د دکاندار خير غواړي، نه دکاندار د ګاهک د خير سوچ کوي، بيا نتيجه څه ده؟ دهوکه ورکول، په ناپ تول کښې کمے، خيانت او داسې څيزونه په بازارونو کښې زياتيږي، زمونږه تجارت ورځ په ورځ مخ په ښکته روان دے او مسلمانان په دنيا کښې د تنزلئ په لور وړاندې روان دي-

نہ سمجھو گے تو مِٹ جاؤ گے اے مُسلمانو! | تمہاری داستاں تک بھی نہ ہو گی داستانوں میں

مونږ ته په دې څيزونو ځان پوهه کول پکار دي! نن موقع ده، مونږ ته سميدل پکار دي! اللہ پاک دې مونږ له د اخستو او خرخولو په باره کښې د ګناهونو نه د بچ کيدو او د صفا سُتهرا، د خير خواهئ والا تجارت کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[40]... احياءالعلوم،كتاب:آداب الكسب ،باب الرابع : فى بيان العدل ،جلد:2،صفحه:102 بتغير قليل۔

# د شعبه رابطه برائے تاجِران لنډه پيژندګلو

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د جَمعې سره د لمونځ د اهميت ښودلو، د سُنَّتو د تربيت او د نيکئ دعوت خپرولو د پاره دعوتِ اسلامي په مختلفو شعبو کښې ديني کار کوي، په دې کښې يوه شعبه **رابطه برائے تاجران** هم ده، تجارت يوه داسې شعبه ده کومه چې په هر مُلک کښې د ملا د تير حيثيت لري، بلکه د ډيرو ملکونو د معيشت اِنحِصار او دار او مدار په تجارت باندې دے، خو د بده مرغه د عِلمِ دين نه د لرې والي په وجه نن د مسلمانانو يوه لويه شميره د تجارت په دې ښکلو اسلامي اُصُولو باندې د عمل کولو نه ډيره لرې ده- هم دغسې د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي لاندې دا شعبه جوړه کړے شوې ده ❁ د کومې کار چې د تجارت د شعبې سره تړلي خلق د تجارت په باره کښې د اسلامي تعليماتو نه خبرول دي، په دې شعبه کښې د موجودو خرابيانو نه د بچ کولو او د پاک ژوند د تيرولو سوچ ورکړے کيږي ❁ د نيکئ د دعوت خپرولو د پيغام عام کولو او دا د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره د تړلو سره، د **مدني مقصد حاصلولو** او په بازارونو کښې د ديني ماحول جوړولو د پاره په جُمات يا په يو مناسب ځائے کښې د **درس** وغيره ورکولو اهتمام [تابيا] کولے شي ❁ د درس نه علاوه وخت په وخت په مختلفو وختونو کښې د **تِجارت کورس** کولو هم اهتمام کولے شي ❁ په مدني چينل باندې يوه سلسله **اَحکامِ تِجارت** هم وي په کومه کښې چې د تجارت حکمونه ښودلے شي ❁ په لويو لويو مارکيټونو، شاپنګ مالز وغيره کښې د **مدرسة المدينه بالغان** اهتمام هم کولے شي په کومو کښې چې خاص طور د زيات عمر سوداګران، دکانداران، کاروباري خلق په فيضانِ قرآن د ښکلي کولو او منور کولو د پاره د صحيح مخارج سره قرآنِ کريم لوستل ښودلے شي ❁ اهلِ محبت د مِل /کارخانو مالکانو ته **په مدني قافِلو کښې د سفر کولو** ذهن ورکولو سره سره د دوئي په نګرانئ کښې کار کوونکو ملازمانو ته هم هره مياشت په مدني قافِله کښې د سفر کولو ترغيب ورکوي ❁ په فيکټرئ / کارخانه کښې د جُمات / جائے نماز اهتمام کولے شي د پاره د دې چې عاشقانِ رسول هم د لمونځونو پابندي اوکړے شي ❁ د فيکټرئ / کارخانې په جُمات / جائے نماز کښې **د روژې په مياشت کښې د تراويح کولو** اهتمام هم کولے شي ❁ سوداګرو ته د **ماهنامه فيضانِ مدينه** د لوستلو سره سره د دې د کليز بکنګ ترغيب ورکولے شي ❁ د سوداګرو د شرعي لار ښودنې د پاره د **دار الافتاء اهلِسُنَّت** سره د رابطې ساتلو ذهن ورکولے شي ❁ سوداګرو ته په مارکيټونو، شاپنګ مالز وغيره کښې د کم وخت **فيضانِ نماز کورس** کولو ترغيب ورکولے شي د پاره د دې چې دوئي د خپل کار روزګار او د وخت د آسانئ مطابق **فيضانِ نماز کورس** اوکړي او د خپل لمونځ صحيح کولو سَعادت حاصل کړي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** قربان شم! د شيخِ طريقت امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حکمت، د هغوئي د اعلیٰ سوچ، عِلم او مهارت نه چې هغوئي د فِتنو نه په دې ډک دور کښې د نيک جوړيدو او د ګناهونو نه د بچ کيدو چې کومه نايابه نُسخه عطا کړې ده يعني 72 نيک اَعمال، په هغې کښې د ټولو نه وړومبے نيک عمل دا دے: **آيا نن تاسو د څه نا څه جائزو کارونو نه مخکښې کم نه کم يو يو ښه نيت اوکړو؟**

که چرې مونږه صِرف يو نيک عمل په استقامت سره خپل کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې په برکت به زړه پاک شي، د زړه نه به د دنيا محبت ووځي او د الله پاک د رضا حاصِلولو ذهن به هم جوړ شي- اوس اندازه اولګوئ! دا په 72 کښې صِرف په يو نيک عمل باندې د استقامت برکت دے، که چرې مونږه د ټولو 72 نيک اَعمالو په خپل ژوند کښې په نافذولو کښې کامياب شو نو د دې به څومره برکتونه نصيب کيږي؟

نيت اوکړئ! مونږه به 72 نيک اَعمال والا ديني کار په خپل ژوند کښې نافِذوو- د دې د پاره د 72 نيک اَعمَال رساله د مكتبة المدينه نه اوغواړئ، دا د خپل ځان سره کيږدئ، هره ورځ وخت مقرر کړئ او خانې ډَکوئ او د ځان سره د نزدې ذِمه وار سره ئې جمع کوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دُنيا ډير برکتونه به نصيب شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ **نيک اَعمَال (*NaikAmal*)** موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، دا ايپلي کيشن ډاؤنډ لوډ کړئ، د دې په ذريعه هره ورځ د خپلو عملونو جاج اخلئ، د غور او فِکر سره د دې خانې ډَکوئ او کارکردګي جمع کوئ- دا ايپلي کيشن پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ- راځئ! د نيک اَعمَال خپلولو يو مدني سپرلے اورو:

## د ماشوم د عبادت شوق

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په سپيشل پرسنز (***Special Persons***) يعني ګونګيانو، چاړاګانو، نابينا اسلامي ورونړو کښې هم د نيکئ دعوت عام کوي، يو ځل د کراچئ يو اسلامي ورور د اشارو په ژبه (***Sign Language***) کښې د بيانولو سره اووئيل: **څوک چې زيات عبادت کوي او نفلونه کوي، الله پاک هغه خوښوي-** دې اجتماع ته يو ماشوم د خپل پلار صاحب سره راغلے وو، دا ماشوم ګونګے وو، د مبلغ اسلامي ورور بيان د هغه په زړه باندې اَثر اوکړو، د بيان نه پس د آرام وقفه شوه نو د شپې تقريباً 2 بجے اوليدلے شول چې هغه ماشوم په نفلونو کولو کښې مصروف دے، د هغه نه پوښتنه اوکړے شوه چې د شپې دومره ناوخته نفلونه ولې کوې؟ اوئې وئيل: **زه د الله پاک خوښ بنده جوړيدل غواړم-** وروستو د هغه ماشوم پلار صاحب

اووئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! زما څوي په **نيک اَعمَال** باندې عمل کوي، پينځه واړه لمونځونه کوي او د هغه په برکت سره ټول کور والا لمونځ ګزاره جوړ شوي دي۔

مدنی انعامات کی بھی مرحبا کیا بات ہے | قُربِ حق کے طالبوں کے واسطے سوغات ہے

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې اوس **مدني انعامات** ته **نيک اَعمَال** وئيلے شي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د څينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ

چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ [41]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ريټ [نرخ] کمول سُنَّتِ مصطفٰے ﷺ دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: الله پاک دې په هغه کَس باندې رحم اوکړي خوک چې په خرڅولو او اخستلو کښې آساني کوي۔ [42]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د هر يو څيز اخستلو په وخت قيمت کمول سُنَّت عمل دے۔ [43] ❀ اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د نرخ کمولو د پاره حجت (يعني بحث) کول بهتر دے بلکه سُنَّت عمل دے [44] ❀ يو ځل حضرت سُوَيد بن قَيس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کپړې راوړې او مکې مکرمې ته راغلے نو خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے

---

[41] …تاريخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

[42] …مسند ابی يعلی، جلد:5، صفحہ:195، حديث:6824ملتقطاً۔

[43] …مرآۃ المناجيح، جلد:4، صفحہ:304بتغير قليل۔

[44] …فتاوىٰ رضويہ، جلد:17، صفحہ:128۔

صَلَّی اللہ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي نه څه کپړې واخستلې- حضرت سُوَيد بن قَيس رَضِیَ اللہ عَنۡہُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ سره قيمت اوټاکلو، څه ئې کم کړلو، آخِر ئې هغه کپړې واخستلې (45) امام غزالي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَيۡہ فرمائي: د کمزوري (مثلاً د بوډا) يا فقير (يعني غريب او محتاج) نه چې څه څيز اخلئ نو په هغه باندې آساني کوئ او د هغه نه څيز ګران اخلئ، دا د نيکئ کار دے- (46) بعضې اخستونکے د قيمت کمولو د پاره او دکاندار د قيمت نه کمولو د پاره دروغ وائي بلکه بعضې خو د دروغو قَسَمونه هم خوري، دا ګناه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے-

کاش! چې مونږه په اخستو او خرڅولو او نورو معاملو کښې د شريعت پيروکار او د سُنَّت آئينه دار جوړ شو-

اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِيۡن صَلَّی اللہ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِيَہ د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| سادَگی چاہئے، عاجزی چاہئے | لینے یہ نعمتیں، قافلے میں چلو |
| عاشِقانِ رسول، آئے سُنّت کے پھول | دینے لینے چلیں، قافلے میں چلو (47) |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِيۡن صَلَّی اللہ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[45]...ابو داود، کتاب:البيوع، باب:الرجحان فی الوزن، صفحہ:536، حديث:3336۔
[46]... اِحْيَاءُ الْعُلوم مترجم، جلد:2، صفحہ:313بتغير قليل۔
[47]...وسائل بخشش، صفحہ:671۔